**مطبوعاتي اعلاميه**

**د قدس له اشغالګرو سره د مسلمانو واکمنانو ملګرتیا پای ته ورسوئ**

حزب التحریر- انګلستان به د فلسطین له خاورې د دفاع او په ځانګړې توګه د بیت المقدس (قدس) ښار او خلکو د دفاع لپاره د ګام نه اخیستو، په خلاف لاریون وکړي.

موږ په مسلسله توګه ویلي او وایو چې د صهیونیست رژیم له لوري د فلسطین مظلوم ولس اشغال یوازې د عرب او مسلمانو رژیمونو د ملګرتیا له امله امکان لري. د اشغال د پای ته رسولو لپاره د دوی د پراخه پوځي ځواک کارولو پر ځای، د منافقو واکمنانو د ښکېلاکګرو د قضیې د جعل لپاره په شخړو کې برخه اخلي. دوی له ښکېلاکګرو سره د همکارۍ تړونونه لاسلیک کړي او ان له ښکېلاکګرو سره مرسته کوي، چې د دوی په خاورو کې اډې جوړې کړي. له داسې خیانتونو سربېره، اسلامي امت ورو او چمتو دی چې دا ظلم پای ته ورسوي.

قدس او مسجد الاقصی، د مسلمانانو لومړنۍ قبله، په سپېڅلې خاوره کې دي او همدا راز د رسول الله صلی الله علیه وسلم د شپې د سفر ځای بلل کېږي.

**[سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ]** [اسرا: ۱]

***ژباړه:*** *هغه ذات پاک چې یوه شپه یې خپل بنده له مسجد حرام څخه تر هغه لیري (اقصی) مسجد بوتلو، د هغه (رسول الله صلی الله علیه وسلم) چاپېریال مو برکتي کړی دی، چې خپلې ځینې نښانې پرې وګورو (ونښیو). په حقیقت کې هماغه (الله سبحانه و تعالی) د هر څه اورېدونکی او لیدونکی دی.*

تر هغه وخت پورې چې دا ښکېلاکګرو رژیمونه وي، د اشغال او ظلم ملاتړ به دوام مومي. د امت شمېر اوس ورځ تر بلې په ډېرېدو دی چې د شاوخوا اسلامي وسله والو ځواکونو په ګډو هڅو سره د اشغال د بشپړ پای ته رسولو په اړه استدلال کوي او پر الله سبحانه و تعالی توکل لري.

زموږ لاریون پر ټولو مسلمانانو غږ دی، چې د دې لپاره سیاسي او پوځي واقعیت وګوري؛ کله چې مسلمانانو پر الله سبحانه و تعالی توکل وکړ او د هغه د حکم پیروي یې وکړه، رومیان، صلیبي یرغلګر او تاتاران یې له سپېڅلې خاورې وشړل.

نن ورځ یوازې غدار واکمنان او د هغوی مدافعین د هغه امت مخنیوی کوي، چې د الله سبحانه وتعالی حکم پر ځای کوي، د خلافت د بیا تاسیس لپاره کار کوي، اسلامي خاورې سره یو ځای کوي او په یو ځل اشغال او ظلم پای ته رسوي.

په لندن کې لاریون د ۲۰۲۱م کال، د مې په ۱٦مه، په ۲ بجو د الټاب علي پارک ته څېرمه د ویتچیل سړک پر غاړه دی. په برمنګهم کې به د پاکستان قونسلګرۍ ته مخامخ په Bridge Street B1 2JS کې وي.

**[وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰ أَمْرِهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ]** [یوسف: ۲۱]

*__ژباړه:__ الله سبحانه و تعالی په برلاسۍ سره خپل کار کوي، خو ډېری خلک نه پوهېږي.*

**یحیی نسبت**

**په برتانیا کې د حزب التحریر مطبوعاتي استازی**

**۱۴۴۲ هـ.ق، د رمضان ۳۰مه**

**۲۰۲۱م، د مې ۱۲مه**

**د صدور ګڼه: ۱۵/ ۱۴۴۲**

**#Aqsa_calls_armies**

**#AqsaCallsArmies**

**#OrdularAksaya**

**#الأقصى_يستصرخ_الجيوش**